# دافغانستان انتقالي اسلامي دولت

# د عدليې وزارت

# رسمي جريده

## دملكي هوايي چلند قانون

دچاپ نېټه : د ۱۳۸۲ هـ.ش كال د چنګاښ د مياشتې (۳۱) — پرله پسې ګڼه (۸۰۹)

**در این شماره :**

۱- فرمان شماره (۳۸) مؤرخ ۱۳۸۲/۴/۲۹ در بارهٔ توشیح قانون هوانوردی ملکی صفحه (۱) .

۲- اعلانات ثبت اسناد و علایم تجارتی صفحه (۴۲) .

د امتیاز خاوند : دعدلیې وزارت

مسئول چلوونکی : شاه جهان :"بېگزاد"

مرستیال : نور علم

# رسمي جريده

(الف)

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رياست

گڼه : (۱۰۶۷۵)

نېټه : ۱۳۸۲/۴/۲۹

د عدليې وزيــر محتــرم قــانونپوه عبدالرحيم کريمی !

د ملکي هوائي چلند قانون چې د وزيرانو د عالی مجلس له خوا په (۱۰) فصلونو او (۹۰) مادو په ترڅ کې تصــويب او زمونږ لخوا منظور شوی دی ، تاسې تــه درواستول شو ، څو په رسمي جريده کې د هغه په خپرولو اقدام وکړی .

حامد کرزی

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئيس

رياست دولت انتقالی اسلامی افغانستان

شماره :(۱۰۶۷۵)

تاريخ : ۱۳۸۲/۴/۲۹

محترم قانونپوه عبدالرحيم کريمــی وزير عدليه !

قانون هوانوردی ملکی کــه از طــرف مجلس عالی وزراء بداخل (۱۰) فصل و (۹۰) ماده تصويب و از جانب ما منظور گرديده است ، به شما ارســال شــد ، تا به نشر آن در جريدهٔ رســمی اقــدام نمائيد .

حامد کرزی

رئيس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

## دملکي هوايي چلند دقانون دتوشېح په هکله، دافغانستان دانتقالي اسلامي دولت درئيس فرمان

ګڼه : ۳۸

نېټه : ۱۳۸۲/۴/۲۹

لومړۍ ماده :

دملکي هوايي چلند قانون چې د وزيرانو دعالي غونډې لخوا د ۱۳۸۲/۴/۹ نېټې د(۱۴) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۱۰) فصلونو او (۹۰) مادو کې تصويب شوى دى، توشېح کوم .

دوه يمه ماده :

دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ اوله قانون سره يوځاى دې په رسمي جريده کې خپور شي .

حامد کرزى

دافغانستان دانتقالي اسلامي

دولت رئيس

## فرمان رئيس دولت انتقالی اسلامی افغانستان دربارۀ توشيح قانون هوانوردی ملکی

شماره : ۳۸

تاريخ : ۱۳۸۲/۴/۲۹

مادۀ اول :

قانون هوانوردی ملکی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۴) مؤرخ ۱۳۸۲/۴/۹ از طرف مجلس عالی وزراء به داخل (۱۰) فصل و(۹۰) ماده تصويب گرديده، توشيح ميدارم .

مادۀ دوم :

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ وهمراه باقانون در جريدۀ رسمی نشر گردد .

حامد کرزی

رئيس دولت انتقالی اسلامی

افغانستان

## د ملكي هوايي چلند قانون
## لومړى فصل
## عمومي حكمونه

لومړۍ ماده :

دغه قانون د ملكي هوايي چلند د چارو د تنظيم، د هوايي ترانسپورت د پراختيا او كنترول او د اشخاصو، دسفردلوازمو، مالونو، پست او دځارويو هوايي حمل اونقل دخدمتونو د تأسيسولو له لارې د هيواد دخلكو ترمنځ، دنړۍ له نورو ملكونو سره دټولنيزو اواقتصادي روابطو دټينګښت او پرمختيا په منظور،وضع شوى دى .

دوه يمه ماده :

دافغانستان دولت په خپل فضايي قلمرو كې،دحاكميت مطلق اوانحصاري حق لري.

دريمه ماده :

د هوايي چلند په ساحه كې د الوتكو فعاليت، د لاندې مقاصدو لپاره صورت مومي :

۱- دمسافرينو، دسفرد لوازمو، مالونو، پست او ځارويو، هوايي حمل او نقل .

## قانون هوانوردى ملكى
## فصل اول
## احكام عمومى

مادهٔ اول :

اين قانون به منظور اداره و تنظيم امور هوانوردى ملكى ، توسعه و كنترول ترانسپورت هوايى،تحكيم و انكشاف روابط اجتماعى واقتصادى بين مردم كشور با ساير ممالک جهان از طريق تاسيس خدمات حمل و نقل هوايى اشخاص ،لوازم سفر،اموال ، پست و حيوانات وضع گرديده است.

مادهٔ دوم :

دولت افغانستان حق حاكميت مطلق و انحصارى رادر فضاى قلمروخود دارد.

مادهٔ سوم :

فعاليت طيارات در ساحهٔ هوانوردىملكى براى مقاصد ذيل صورت مى گيرد:

۱-حمل و نقل هوايى مسافرين،لوازم سفر،اموال ، پست و حيوانات .

۲-دکرنې، روغتيا، ښوونې او په تفريحي ساحوکې دخاصوچارو اجراءکول.

۳- دجيوديزي او کارتوګرافي او علمي څېړنو د چارو اجراء کول.

۴- دملي اقتصاد د پرمختيا لپاره د نورو هوايي خدمتونو سرته رسول.

څلورمه ماده :

ددې قانون حکمونه ، د هر ډول ملکي افغاني او بهرنيو الوتکو په مورد کې چې د افغانستان په فضايي قلمروکې الوتنه کوي،تطبيقېږي.له هېواد څخه په بهرکې افغاني الوتکې هم ددې قانون تابع دي، مګرداچې نړيوال موافقه ليکونه يادبهرني هېواد قانون بل ډول حکم وکړي.

پنځمه ماده :

په افغانستان کې د الوتکې مالکيت ددې قانون د اړکل شوو شرايطو مطابق،په ادارو،تصديو،دولتي مؤسسو، خصوصي متشبثينو، خصوصي کورنيو اوبهرنيو شرکتونو،اوله کورنيو اوبهرنيومؤسسو سره په ګډودولتي شرکتونواومرستندويه ټولنيزوسازمانونوپورې تعلق نيولای شي.

۲- اجرای امور خاص در ساحهٔ زراعت، صحت، تعليمی وتفريحی .

۳- اجرای امور جيوديزی وکارتوګرافی وتحقيقات علمی .

۴- انجام ساير خدمات هوايی جهت انکشاف اقتصاد ملی .

مادهٔ چهارم :

احکام اين قانون درمورد تمام انواع طيارات ملکی افغانی وخارجی که در فضای قلمروافغانستان پروازمينمايند تطبيق ميگردد.طيارات افغانی درخارج ازکشورنيزتابع احکام اين قانون ميباشندمگراينکه موافقتنامه هایبين المللی ياقانون کشورخارجیطورديگری حکم نمايد.

مادهٔ پنجم :

درافغانستان مالکيت طياره به ادارات ، تصديها ،موسسات دولتی،متشبثين خصوصی،شرکت های خصوصی داخلی و خارجیو شرکت های مختلط دولتی با موسسات داخلی وخارجی وسازمان های تعاونی واجتماعی مطابق شرايط پيشبينی شدهٔ اين قانون تعلق گرفته ميتواند.

شپږمه ماده :

ددې قانون په پنځمه ماده کې درج شوې هوايي موسسې او شرکتونه، په هغه صورت کې کولای شي ايجاد شي چې دنړيوال هوايي حمل اونقل د موسسودمعيارونواو ستندردلرونکي وي.

اوومه ماده :

دملکي هوايي چلند او ګرځندوی وزارت په افغانستان کې د ملکي هوايي چلند د پاليسی د ټاکلو او د چارو تنظيموونکې واحده اداره ده .

## دوه یم فصل

## دالوتکو ثبت

اتمه ماده :

د الوتکو د ثبت دفتردملکي هوايي چلند اوګرځندوی په وزارت کې تنظيمېږي ، هغه الوتکې چې ددې قانون د حکمونو مطابق،د ثبت په دفترکې ثبت شي، د افغانستان تابعيت ترلاسه کوي، دهرې الوتکې دحق الثبت په بدل کې،د يو زر امريکايي ډالرو معادل دورکړې وړدي .

نهمه ماده :

الوتکه تردغو شرايطو لاندې ثبتېږي :

مادهٔ ششم :

موسسات و شرکت های هوایی مندرج مادهٔ پنجم این قانون در صورتی میتوانند ایجاد گردند که معیار ها وستندرد موسسات حمل و نقل هوایی بین المللی را دارا باشند.

مادهٔ هفتم :

وزارت هوانوردی ملکی و توریزم ادارهٔ واحد تعیین پالیسی و تنظیم کنندهٔ امور هوانوردی ملکی در افغانستان میباشد .

## فصل دوم

## ثبت طیارات

مادهٔ هشتم :

دفتر ثبت طیارات در وزارت هوانوردی ملکی و توریزم تنظیم میگردد. طیاراتیکه در دفتر ثبت مطابق احکام این قانون به ثبت برسد، تابعیت افغانستان را کسب مینماید.در بدل حق الثبت هر طیاره مبلغ معادل یکهزار دالر امریکائی قابل پرداخت میباشد.

مادهٔ نهم :

طیاره تحت شرایط ذیل به ثبت میرسد :

۱- په هغه صورت کې چې الوتکه، ددې قانون په پنځمه ماده کې ددرج شوو ادارو او مؤسسو ملکيت وي .

۲- په هغه صورت کې چې الوتکه په بل هېواد کې ثبت شوې نه وي .

لسمه ماده :

دالوتکې ثبت په لاندې احوالوکې په افغانستان کې دثبت له دفترڅخه حذف کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې ددې قانون د نهمې مادې په (۱) جزء کې ددرج شوي شرط،نه لرونکې وي .

۲- په هغه صورت کې چې الوتکه د الوتنې لپاره د استفادې وړ نه وي .

۳- په هغه صورت کې چې الوتکه ويجاړه ياورکه شوې وي اودهغې دژغورنې او پلټنې عمليات رسماً پای ته رسېدلي اعلان شوي وي.

۴- په هغه صورت کې چې الوتکه په بهرني دولت، بهرنيو مؤسسو يا اتباعو باندې پلورل شوې يا ورپرېښودل شوې وي .

يوولسمه ماده :

دافغاني تابعيت لرونکې الوتکه، ترهغه وخته چې دافغانستان دثبت له دفترڅخه حذف شوې نه وي ، ثبت يې دبهرنيوهېوادونودثبت

۱- در صورتيکه طياره ملکيت ادارات و مؤسسات مندرج مادهٔ پنجم اين قانون باشد.

۲- در صورتيکه طياره درکشور ديگری ثبت نباشد.

مادهٔ دهم :

ثبت طياره دراحوال ذيل ازدفترثبت درافغانستان حذف ميگردد :

۱- درصورتيکه فاقد شرط مندرج جزء (۱) مادهٔ نهم اين قانون باشد.

۲-در صورتيکه طياره برای پرواز قابل استفاده نباشد .

۳-درصورتيکه طياره منهدم يا مفقود-الاثر شده وختم عمليات تفحص و نجات آن رسماً اعلام شده باشد.

۴-درصورتيکه طياره به دولت خارجی،مؤسسات يا اتباع خارجی به فروش رسيده يا و اگذار شده باشد.

مادهٔ يازدهم :

طياره يی دارای تابعيت افغانی‌تاوقتيکه ازدفترثبت افغانستان حذف نشده، ثبت آن دردفترثبت کشور های خارجی جواز

په دفترکې جوازنه لري اوبې اعتباره دی.

دوولسمه ماده :

(۱) دالوتکې ثبت په خپل ذات کې د اعتبار وړ سند دی، دالوتکې ثبتوونکې اداره، دثبت په اړه تصدیق لیک، دالوتکې خاوند او ذیربطو مراجعو ته صادر وي، دالوتکې مالکیت دتصدیق لیک په موجب تثبیتیږي .

(۲) هوایي مؤسسې کولای شي د (AOC) جواز لیک له ترلاسه کولو وروسته فعالیت وکړي .

(۳) (AOC) جواز لیک د پنځه ویشت زره امریکایي ډالرومعادل په مقابل کې صادریږي.

دیارلسمه ماده :

دثبت په دفترکې دالوتکې دثبت په وخت کې دتابعیت اوثبت مشخصې علامې تخصیص ورکول کیږي، دغه علامې دالوتکې په بدنه باندې دمالک په واسطه انځور کیږي .

څوارلسمه ماده :

دهوائي ترانسپورت کورنۍ او بهرنۍ مؤسسې کولای شي الوتکې وپېري او یايې په اجاره و نیسي.دالوتکې د اجارې دقراردادعقد،دثبت په دفترکې درجیږي.

نداشته وازاعتبارساقط می‌باشد.

مادهٔ دوازدهم :

(۱)ثبت طیاره به ذات خودسند مداراعتباراست.ادارهٔ ثبت کنندهٔ طیاره تصدیقنامهٔ مبنی بر ثبت را به مالک طیاره ومراجع ذیعلاقه صادرمینماید. مالکیت طیاره به موجب تصدیقنامه تثبیت میگردد.

(۲)مؤسسات هوایی‌می‌توانند بعدازحصول جوازنامهٔ (AOC)فعالیت نمایند .

(۳) جواز نامهٔ (AOC ) مقابل معادل بیست وپنج هزاردالرامریکائی صادرمیگردد .

مادهٔ سیزدهم :

هنگام ثبت طیاره دردفترثبت ، علایم مشخصهٔ تابعیت و ثبت تخصیص داده میشود.این علایم دربدنهٔ طیاره توسط مالک آن نقش میگردد.

مادهٔ چهاردهم :

مؤسسات ترانسپورت هوائی داخلی و خارجی میتوانند طیارات را خریداری ویا به اجاره بگیرند.عقد قرارداد اجارهٔ طیاره دردفتر ثبت، درج میگردد .

## دریم فصل

### دملکي هوايي ترانسپورت مؤسسې

پنځلسمه ماده :

حقيقي ياحکمي اشخاص دملکي هوايي چلند اوگرزندوی دوزارت له اجازې پرته نشي کولای دسوداګری (تجارتي) حرفې ياشغل په نوم دکرايې يااجرت په مقابل کې دهوايي حمل اونقل ددفترونوپه جوړولو لاس پورې کړي.

شپاړسمه ماده :

په افغانستان کې دمسافرينو، دسفر دلوازمو، مالونو، پست او څارويو هوايي حمل اونقل، ددولتي مؤسسو او تصديو،خصوصي متشبثينو يا دولتي او خصوصي شرکتونو په واسطه دتقنيني سندونودحکمونو مطابق،صورت مومي .

اوولسمه ماده :

دملکي هوايي چلند اوگرزندوی وزارت،دهوايي چلنددوسايلو اووسايطو دتخنيکي استعمال،دالوتکو، د سوداګري ګټې اخيستنې،اداري مقرراتو، دالوتکو دالوتنې دکارکوونکود شرايطو اوپه هوايي ترانسپورت پورې د

## فصل سوم

### مؤسسات ترانسپورت هوايي ملکی

مادهٔ پانزدهم :

اشخاص حقيقی يا حکمی بدون اجازه وزارت هوانوردی ملکی و توريزم نمی توانند به عنوان حرفه يا شغل تجارتی به ايجاد دفاتر حمل و نقل هوايي در مقابل اجرت يا کرايه مبادرت ورزند.

مادهٔ شانزدهم :

حمل و نقل هوايي مسافرين ،لوازم سفر،اموال ، پست و حيوانات در افغانستان توسط مؤسسات و تصديهای دولتی، متشبثين خصوصی يا شرکتهای دولتی و خصوصی مطابق احکام اسناد تقنينی صورت ميگيرد.

مادهٔ هفدهم :

وزارت هوانوردی ملکی وتوريزم از فعاليت مؤسسات ترانسپورت هوايي مبنی بر استعمال تخنيکی وسايل ووسايط هوانوردی،طيارات،بهره برداری تجارتی ،مقررات اداری ،شرايط کارکنان پرواز طيارات و خدمات زمينی

مربوطوځمکنيوخدمتونوپه اړه،دهــوايي ترانسپورتي موسسوفعاليتونه کنترولوي .

اتلسمه ماده :

دهوايي ترانســپورت ټــولې موسســې مکلفې دي الوتکې، دالــوتنې عملــه، مسافرين او دهغوی مربــوط مالونــه، دنړيوالوکنوانسيونونومطابق،بيمه کړي .

ځلورم فصل

دالوتنې دکار کوونکو هيئت

نولسمه ماده :

دالوتنې دکارکوونکو هيئت له هغو اشخاصو څخه جوړدی چې دالوتنې په وخــت کــې دالوتکې دخدمتونو داجــراء پــه منظــور، دالوتکې دننه دنده ترسره کــوي. دالــوتنې دهيئت ترکيــب دالــوتنې دمقتضــياتو اود الوتکې ډول ته پــه پــام ســره، د نړيوالــو نورمونو مطابق، دملکــي هــوايي چلنــد او ګرځندوی وزارت لخوا ټاکل کيږي .

شلمه ماده :

دالوتنې کارکوونکي چې داصلي دندې داجراء دچلولو، الوتنې، د انجنونواوپه الوتکه کې دننه ډول ډول ماشين آلاتو د اداري اوکنترول په منظور،موظف کيږي

مربوط به ترانسپورت هوايي کنتــرول بعمل ميآورد.

مادهٔ هجدهم :

تمام موسسات ترانسپورت هوايي مکلف اند طيارات ،عملهٔ پرواز،مســافرين و اموال مربوط شان را طبق کنوانســيون های بين المللی بيمه نمايند.

فصل چهارم

هيئت کارکنان پرواز

مادهٔ نزدهم :

هيئت کارکنان پــرواز مشــتمل بــر اشخاصی است که به منظــور اجــرای خدمات طياره در حين پــرواز بــداخل طياره ايفای وظيفه مينماينــد.ترکيــب هيئت کارکنان پرواز نظر به مقتضيات پرواز و نــوع طيــاره توســط وزارت هوانوردی ملکــی و تــوريزم مطــابق نورمهای بين المللی تعيين ميگردد .

مادهٔ بيستم :

کارکنان پرواز که به مقصد اجــرای وظيفــهٔ اصــلی بــه رانــدن ، اداره و کنتــرول پرواز،انجن ها وماشين آلات مختلف داخــل طيــاره موظــف ميگردندبايــد تعليمــات

باید دالوتکي مشخص ډول اودخپلې دندې ډول ته په پام سره يې مسلکي او اختصاصي زده کړې په برياليتوب سره ترلاسه کړې وي، لایسنس اوداهليت تصديق ليک يې اخيستى وي.

يوويشتمه ماده :

دهوايي حمل اونقل شرکتونه چې په افغانستان کې جوړيږي کولای شي افغاني او بهرني اتباع دقانون مطابق استخدام کړي. د لومړيتوب حق افغاني اتباعوته ورکول کيږي.

دوه ويشتمه ماده :

دالوتکې کپتان پيلوټ، دالوتنې د کارکوونکودهيئت دآمر په توګه، دعالي مسلکي تحصيلاتو اود مشخص ډول الوتکې دالوزولو او ادارې لپاره دکافي تجربې لرونکي‌وي، دالوتنې د کارکوونکو دهيئت دټولو فعاليتونو دلارښوونې او ادارې اوپه الوتکه کې دننه د اشخاصو اومالونودامنيت اومصئونيت تأمينول يې په غاړه دي .

درويشتمه ماده :

ټول هغه اشخاص چې دالوتکې په واسطه مسافرت کوي،دالوتکې د کپتان پيلوټ

مسلکی و اختصاصی را نظر بـه نـوع مشخص طیاره و نوع وظیفهٔ خـود موفقانـه فـرا گرفتـه، لایسـنس و تصدیقنامهٔ اهلیت را حاصـل نمـوده باشند .

مادهٔ بیست و یکم :

شرکت های حمل و نقل هوایی که در افغانستان تأسیس میگردند میتوانند اتباع افغانی و خارجی را طبق احکام قانون استخدام نمایند .حق اولیت بـه اتباع افغانی داده میشود.

مادهٔ بیست و دوم :

پیلوت کپتان طیاره به حیث آمر هیئـت کارکنان پرواز دارای تحصیلات عـالی مسلکی ، تجربهٔ کافی برای پـرواز و اداره کردن نوع مشخص طیاره بوده ، رهبری و ادارهٔ کلیـه فعالیـت هـای هیئت کارکنان پرواز،تـأمین امنیـت و مصئونیت اشخاص و امـوال داخـل طیاره را به عهده دارد.

مادهٔ بیست و سوم :

تمام اشخاصیکه توسط طیاره مسافرت مینمایند تابع امر و هدایت پیلوت کپتان

دامراوهدایت تابع دي،دالوتکې کپتان پیلوټ واک لري،دالوتکې دکارکوونکو دهیئت یادمسافرینوله ډلې څخه هرشخص چې د الوتکې مصئونیت،سلامت یاد الوتنې په وخت کې دالوتکې دننه نظم او انضباط اخلال کړي ترڅارنې لاندې ونیسي،په لومړني تم ځای کې یې له الوتکې څخه کوز او مربوط مقام ته وسپاري، همداراز دالوتکې یوه اندازه بارچې دالوتنې دمصئونیت په وړاندې خطر پیداکړي،له الوتکې څخه ښکته کړي .

څلېریشتمه ماده :

کپتان پیلوټ دالوتکې امانت داراود بارونې مسئول دی،په هغه صورت کې چې ددندې اجراءکول یې له ستونزوسره مخامخ شي،باید دالوتکې دمتصدي هوایي حمل اونقل له مؤسسې څخه هدایت واخلي،که دقناعت بښونکولارښوونو ترلاسه کول ورته ناممکن وي،واک لري چې دالوتکې متصدي هوایي حمل اونقل دمؤسسې په استازیتوب،په لاندې توګه اقدام وکړي :

۱ -دالوتکې دالوتنې دترسره کولواو د دندې داجراءپه منظوردې لازم لګښتونه (مصارف) ورکړي اویادې دورکړې ژمنه وکړي.

طیاره قرار میگیرند .پیلوت کپتان طیاره صلاحیت دارد هر شخص را از جملهٔ هیئت کارکنان طیاره یا مسافرین که مصئونیت،سلامت یا نظم و انضباط داخل طیاره را در جریان پرواز اخلال نماید، تحت مراقبت قرار داده، در اولین فرودگاه از طیاره پایین و به مقام مربوط بسپارد، همچنان قسمتی از بار طیاره را که خطری در برابر مصئونیت پرواز ایجاد نماید، از طیاره تخلیه نماید .

مادهٔ بیست و چهارم :

پیلوت کپتان، امانت دارطیاره و مسئول بارگیری است،در صورتیکه اجرای وظیفه او به مشکلات مواجه گردد، باید از مؤسسهٔ حمل و نقل هوایی متصدی طیاره طالب هدایت شود، اگر در یافت هدایات قناعت بخش برایش نا ممکن باشد، صلاحیت دارد که به نمایندگی‌از مؤسسهٔ حمل و نقل هوایی متصدی طیاره حسب آتی اقدام نماید :

۱ -مصارف لازمه را به منظور انجام پرواز طیاره و اجرای وظیفهٔ محوله تادیه نموده یا تادیهٔ آن را تعهد نماید.

۲- دالوتنې ددوام په مقصددې په لنــډ وخت کې دالوتکې دضروري ترمیماتو د اجراء امر اوهدایت صادرکړي.

۳- دمسافرینو دمصئونیت اود الــوتکې دننه مالونو دساتنې په خاطر دې،مقتضي اقدامات وکړي اولازم لګښتونــه دې اجراء کړي.

۴- دپورتنیــو اقــداماتو داجــراء لپــاره دې،دضرورت وړ پیسې پــه پــورواخلي، پدې ماده کې له درج شــوو واکونــو او اقدماتوڅخه راپیداشوي احتمالي اختلافونه په تجارتي محکمه کې حل اوفصل کېږي.

پنځم فصل

هوايي ډګرونه

پنځه ویشتمه ماده :

دملکي هوايي چلند اوګرزندوی وزارت کــولای شــي هغوالوتکوتــه چــې دمسافرینو، دسفر دلوازمــو، مــالونو، پست اوځارویودحمل اونقــل اونــورو مقصدونو لپاره الوتنې کوي، دخدمتونو دتأمین په منظور، له ذیربطو مراجعو سره په تفاهم کې، هوايي ډګرونه جوړکړي .

۲-دراجرای ترمیمات ضروری طیــاره بــه مقصد ادامهٔ پروازبــه زودتــرین فرصــت امر وهدایت صادرنماید.

۳-به منظور تأمین مصئونیت مسافرین و حفاظت اموال داخل طیاره اقــدامات مقتضی را اتخاذ و مصارف لازم را اجرا نماید.

۴-مبالغ مورد ضرورت برای اجــرای اقدامات فوق الذکر را طوری قرضــه اخذ نماید.اختلافات احتمالی ناشــی از اختیارات و اقدامات مندرج این ماده در محکمهٔ تجارتی حل و فصل میگردد.

فصل پنجم

میدان های هوایی

مادهٔ بیست و پنجم :

وزارت هوانوردی ملکــی و تــوریزم میتواند به منظور تأمین خدمات بــرای طیاراتیکه جهت حمل ونقل مســافرین، لوازم سفر،اموال،پســت وحیوانــات ومقاصد دیگر پرواز مینمایند درتفاهم بامراجع ذیربط، میدان هــای هــوائی تأسیس نماید .

شپږويشتمه ماده :

هوايي ډګرونه دافغانستان ددولت او اتباعو ملکيت دی اودملکي هوايي چلند اوګرزندوی وزارت لخوا له فني څېړنې وروسته، دټولو هغو الوتکو دالوتنې لپاره چې دمناسبوتخنيکي خصوصياتو لرونکې وي،دګټې اخيستنې وړ اعلانېږي .

هوايي ډګرونه دقانون دحکمونو مطابق، په اجاره ياکرايه ورکول کېدای شي .

اووه ويشتمه ماده :

دځمکې هغه ساحه چې مخصوصاً دالوتکو دالوتنې لکه کېناستو، پورته کېدو، تم کېدو اودالوتکو دخوځښت (حرکاتو) لپاره، دمربوطه تأسيساتو په شمول چې دهوايي ترافيکو اوالوتکو دخدمتونو لپاره تنظيم اوجوړشوي وي، هوايي ډګر تشکيلوي.

اته ويشتمه ماده :

په هغه صورت کې چې په يوه هوايي ډګرکې دالوتکودالوتنې دمصئونيت دتأمينولوامکانات،موجودنه وي يايه هغه صورت کې چې عامه امنيت يې ايجاب کړي،له هوايي ډګرڅخه استفاده

مادهٔ بيست و ششم :

ميدان های هوايي ملکيت دولت و اتباع افغانستان بوده و بعد از بررسی فنی از طرف وزارت هوانوردی ملکی و توريزم برای پرواز تمام طياراتيکه دارای خصوصيات تخنيکی مناسب باشند،قابل استفاده اعلان ميگردد.

ميدانهای هوائی مطابق احکام قانون به اجاره يا کرايه داده شده ميتواند .

مادهٔ بيست و هفتم :

ساحهٔ زمينی که مخصوصاً برای پرواز طيارات، اعم از نشست،برخاست، توقف و حرکات طيارات به شمول تأسيسات مربوطهٔ آن که برای تأمين مقاصد ترافيک هوايي و خدمات طيارات تنظيم و احداث شده باشد ،ميدان هوايي را تشکيل ميدهد.

مادهٔ بيست و هشتم :

در صورتيکه امکانات تأمين مصئونيت پرواز طيارات در يک ميدان هوايي موجود نباشد يا در صورتيکه امنيت عامه ايجاب نمايد،استفاده ازميدان هوايي در هر زمان ممنوع ، محدود يا مقيد به

په هروخت کې منع، محدوده یاپه خاصو شرایطو مقید کېدای شي .همدا راز که په یوه سیمه کې څو هوایي ډګرونه دالوتکو دالوتنې لپاره پرانستي وي، دملکي هوایي چلند او ګرزندوی وزارت کولای شي دعمومي منفعت په خاطر،له هغو څخه ګټه اخیستنه دځینوالوتکو یادځینو سوادګري هوایي حمل اونقل دخدمتونو لپاره تخصیص کړي .

نهه ویشتمه ماده :

په افغانستان کې هوایي ډګرونه، دهوایي ترافیک دخصوصیت اواهمیت په پام کې نیولو سره، دساختماني او تخنیکي تجهیزاتو دمشخصاتو له لحاظه چې په هوایي ډګرونو کې عملي کېږي، په لاندې درجو تصنیف کېږي :

۱- لومړۍ درجه هوایي ډګرهغه دی چې دالوتکو دمنډې اوپورته کېدو کرښې(Taxi way and Runway)اود هوایي ډګر نورې ساحې دالوتکودتم کېدو او خوځښت لپاره اسفلت او کانکرېټ شوې وي اوپه ۲۴ساعتونو کې دنړیوال هوایي ترافیک اود اوږده واټن الوتنو دخدمتونو دسرته رسولو لپاره چمتو او فعال وي .

شرایط خاص شده میتواند. علاوه براین اگر چندین میدان هوایی در یک منطقه برای پرواز طیارات باز باشند، وزارت هوانوردی ملکی و توریزم میتواند بخاطر منفعت عمومی استفاده از آن را برای بعضی طیارات یا بعضی خدمات حمل و نقل هوایی تجارتی تخصیص بدهد.

مادهٔ بیست ونهم :

میدان های هوایی در افغانستان از لحاظ مشخصات ساختمانی و تجهیزات تخنیکی با نظر داشت خصوصیت و اهمیت ترافیک هوایی که در میدان های هوایی به عمل میاید، به در جات آتی تصنیف میگردد:

۱- میدان هوائی درجه اول آن است که خطوط دوش وخیزش طیارات (Taxi way and Runway)ودیگرساحات میدان هوائی برای توقف وحرکات طیارات، اسفلت و کانکریت شده وبرای انجام خدمات ترافیک هوایی بین المللی وپروازهای طویل المسافه در۲۴ساعت آماده و فعال باشد.

۲- دوه یمه درجه هوايي ډګر هغــه دی چې دالوتکو دمنډې او پورتــه کېــدو کربنې یې اسفلت اوکانکرېټ شــوې وي، مګردشپې په اوږدو کې دهــوايي ترافیک دخدمتونو دسرته رسولو لپــاره پوره تجهیزات اوتأسیسات نه لري اود اوږده واټن په الوتنوکې دالوتکوالوتنه له دې ډګرونو څخه صورت نشي موندای.

۳- دریمه درجه هوايي ډګر هغــه دی چې دالوتکو دمنډې اوپورتــه کېــدو کربنې یې اسفلت اوکانکرېټ شوې نه وي اود هوايي ترافیکو خدمتونه په یوه ټاکلې موده کې یوازې دلنډ واټن لپاره پکې ترسره شي.

دېرشمه ماده :

دلوړ پوړیزو تأسیساتو اوودانیو خاوندان چې ملکیت یې هوايي ډګر ته نېږدې او دالوتکو دالوتنې په خط الســیر کــې موقعیت لري، دخطردپېښېدودمخ نیوې اودالوتنې دمصئونیت دتأمینولوپه خاطر مکلــف دي، دملکــي هــوايي چلنــد اوګرزندوی دوزارت له لارښوونې سره سم، دخپلوودانیو دپاسه څراغونه اونور

۲- میدان هوايي درجه دوم آن است که خطوط دوش و خیزش طیارات، اسفلت و کانکریت شــده امــا تجهیــزات و تأسیسات کافی برای انجــام خــدمات ترافیک هوايي در طول شب نداشــته و پــرواز طیــارات در پــرواز هــای طویل المسافه از میدان هــوايي مــذکور صورت گرفته نمیتواند .

۳-میدان هوايي درجه سوم آنست کــه خطوط دوش وخیزش طیارات، اسفلت یا کانکریت نشده وخدمات ترافیــک هوايي محــض بــرای پــرواز هــای قصیر المسافه در یــک مــدت معــین انجام گیرد.

مادهٔ سی ام :.

مالکین تأسیسات و سا ختمان های بلند منزل که ملکیت شان در نزدیکی میدان هوايي و در حدود خط الســیر پــرواز طیارات موقعیــت دارد، بــه منظــور جلوګیری از ایجاد خطر و بخاطر تأمین مصئونیت پرواز مکلف انــد، مطــابق هدایت وزارت هوانوردی ملکی وتوریزم بالای ساختمانهای‌خودچراغهاودیگرعلایم

مشخصه علايم په خپل لګښت نصب او شپه او ورځ بې فعال وساتي .

يودېرشمه ماده :

دهوايي ډګرپه شا او خواکې د ودانيو اوتأسيساتو جوړول،دمخابراتو اود لوړ ولتاژ بربېښنا دهوايي لينونو غزول چې د هغوموجوديت،دالوتکود الوتنې د مصئونيت په وړاندې خطر پيداکوي ،مجاز ندي .

دوه دېرشمه ماده :

دهغو ښارونو اوله نفوسو څخه ډکو سيمود ساختماني نقشو دطرحې اوتطبيق په وخت کې چې هغو ته نږدې هوايي ډګر وي ، دالوتکو دالوتنې دمصئونيت دتأمين شرايط اودهوايي ډګر دپراختيا امکانات، دملکي هوايي چلند اوګرزندوی وزارت دنظريې مطابق اټکل کېږي .

دري دېرشمه ماده :

دهوايي چلند او ګرزندوی وزارت کولای شي دالوتکو دالوتنې دمصئونيت دتأمينولو په منظور، دهوايي چلند دځمکينو وسايطواو آلاتو دنصبولولپاره ، له هرډول شخصي او عامه ارضي يا

مشخصه را به مصرف خود نصب و شب و روز فعال نگه دارند .

مادهٔ سی و يکم :

اعمار ساختمان ها و تأسيسات ، تمديد لين های هوايي مخابرات وبرق با ولتاژقوی درنواحیميدان هوايیکه وجود آنها دربرابرمصئونيت پرواز طيارات خطر ايجاد نمايد، مجاز نمی باشد .

مادهٔ سی و دوم :

حين طرح و تطبيق نقشه های ساختمانی شهرو ساير مناطق پر نفوس که در نواحی آن ميدان هوايي قرار دارد، شرايط تأمين مصئونيت پرواز طيارات و امکانات توسعهٔ ميدان هوايي طبق نظريهٔ وزارت هوانوردی ملکی وتوريزم پيشبينی ميگردد.

مادهٔ سی و سوم :

وزارت هوانوردی ملکیوتوريزم ميتواند به منظور تأمين مصئونيت پرواز طيارات برای نصب وسايط وآلات هوانوردی زمينی ازهر نوع ملکيت های شخصی وعامهٔ ارضی يا ساختمانی بدون آنکه

ساختماني ملکيتونو څخه پرته لدې چې نوموړو ملکيتونو ته زيان ورسيږي استفاده وکړي. اوښتي زيان دملکي هوايي چلند اوګرزندوی دوزارت لخوا جبرانيږي.

څلوردېرشمه ماده :

دهوايي ډګر داحداث اوجوړولو يـاد هغـه ديراخولولپاره دارتيا وړځمکې ساحه، دقانون له حکمونو سره سم، استملاک کيږي .

پنځه دېرشمه ماده :

په هوايي ډګرونو کې دسـرحدي کنتـرول مربوط دفترونـه (دګمرکـي، روغتيـايي، قرنطين، ويزې او پاسپورت دچـارو اجـراء کول) چې دنړيوالو الوتنو لپاره پرانستي دي، دمربوطودولتي مقاماتوپه واسطه جوړيږي.

شپږدېرشمه ماده :

دګټې اخيستنې وړ په ټولو هـوايي ډګرونـو کې دالوتکو دالوتنې لپاره له هـوايي ډګـر، دملکي هوايي چلند له خدمتونو او تأسيسـاتو څخه داستفادې حـق الاجـرت، دمقرراتـو مطابق، په لاندې مواردوکې اخيستل کيږي :

۱- دالوتکو کيناستل .

۲- دالوتکو تم کيدل .

۳- دالوتکو دلارښوونې، دهوايي چلند

خساره به ملکيـت مـذکورواردګردد استفاده نمايد.خسارهٔ وارده ازطـرف وزارت هوانـوردی ملکـی وتـوريزم جبران ميګردد .

مادهٔ سی و چهارم :

ساحهٔ زمين مورد ضرورت برای احداث و ساختمان ميدان هوايي يا توسـعهٔ آن طبق احکام قانون استملاک ميشود .

مادهٔ سی وپنجم :

دفاترمربوط به کنترول سرحدی (اجرای امور ګمرکی ،صحی ،قـرنطين ،ويـزه وپاسپورت) توسط مقامات زيربط دولتی در ميدانهای هوايي که برای پروازهـای بين المللی باز ميباشند،تاسيس می ګردد .

مادهٔ سی وششم :

حق الاجرت استفاده از ميدان هوايي ، تأسيسـات و خـدمات هوانـوردی ملکی‌درکليه ميـدانهای هـوايي قابـل استفاده برای پـرواز طيـارات، طبـق مقررات در موارد آتی اخذ ميګردد :

۱- نشست طيارات .

۲- توقف طيارات .

۳- استفاده از دستګاه های راهنمايي

دمخابرې له دستګاوو اود هوايي ترافيکو له خدمتونو څخه ګټه اخيستنه.

۴- دالوتکو دسون دموادو له تأسيساتو څخه ګټه اخيستنه .

۵-دمسافرينو په هرکلي اوخدمتونواوپه مالونو پورې له مربوطو تأسيساتوڅخه ګټه اخيستنه.

۶- دځمکې له ساحې اود هوايي ډګر له مربوطه ودانيو څخه ګټه اخيستنه .

۷- دالوتکو دځمکنيو خدمتونو له وسايطو څخه ګټه اخيستنه .

۸- نور هغه خدمتونه چې دهوايي ډګر په ساحه کې اشخاصو، دايرو اوموسسو ته په خپل وخت برابرېږي .

## شپږم فصل

## دالوتکو الوتنې

اووه دېرشمه ماده :

الوتکه هغه وخت الوتنه کولای شي چې د الوتنې دقابليت دتصديق ليک اودتابعيت د مشخصه علايمولرونکې او ثبت شوې وي.

اته دېرشمه ماده :

دالوتنې دقابليت تصديق ليک چې افغاني الوتکې ته داعتبار وړ نړيوالو معيارونو مطابق، دبهرني هېواد د واکمنو مراجعو

طيارات و مخابرهٔ هوانوردی و خدمات ترافيک هوايی.

۴-استفاده از تأسيسات توزيع مواد سوخت طيارات .

۵- استفاده از تأسيسات مربوط به پذيرايی و خدمات مسافرين و اموال .

۶- استفاده از ساحهٔ اراضی و عمارات مربوط ميدان هوايی .

۷- استفاده از وسايط خدمات زمينی طيارات .

۸- ساير خدماتيکه در ساحهٔ ميدان هوايی برای اشخاص، دواير و مؤسسات عندالموقع فراهم ميگردد.

## فصل ششم

## پرواز طيارات

مادهٔ سی وهفتم :

طياره وقتی پرواز کرده ميتواندکه دارای تصديقنامهٔ قابليت پروازوعلايم مشخصهٔ تابعيت بوده وبه ثبت رسيده باشد .

مادهٔ سی وهشتم :

تصديقنامهٔ قابليت پرواز که برای طيارهٔ افغانی توسط مراجع ذيصلاح کشور خارجی مطابق معيار های قابل اعتبار

لخوا صادرشوی وي، دملکـي هـوايي چلند اوگرزندوی د وزارت لخوا دهغه له اعتبار اوسموالي څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته، معتبر گڼل کېږي .

نهه دېرشمه ماده :

الوتکې په ټاکلو هوايي دهلېزونو کـې، دمقرراتو په رعايتولو سره دافغانسـتان دقلمرو دپاسه الوتنـه کـولای شـي دبهرني تابعيت لرونکې الوتکې په هغـه صورت کې دافغانستان له فضايي قلمرو څخه تېرېدای شي چې دعقـد شـوي موافقت ليک يانړيوال کنوانسيون پـه موجب، دغه حق هغو ته ورکړل شوی وي ياداچې نوموړو الوتکو ددې منظور لپاره خاص اوموُقت اجازه ليک ترلاسه کړی وي .

څلوېښتمه ماده :

ددې قانون په (۳۹)ماده کې درج شوې الوتکې چې له ټاکلودهلېزونوڅخـه د افغانسـتان دقلمرودپاسـه تېرېـږي،د حق العبوردورکړې تـابع دي، دهغـه دورکړې اندازه او څرنگوالی دمقررې په واسطه ټاکل کېږي .

بين المللی صادر شده باشـد، بعـد از حصول اطمينان مبنی بر اعتبار و صحت آن از طرف وزارت هوانوردی ملکـی وتوريزم معتبر شناخته ميشود .

مادهٔ سی و نهم :

طيارات در دهليز های هوايي معينه بالای قلمرو افغانستان با رعايـت مقـررات پرواز کرده می توانند. طيـارات دارای تابعيت خارجی در صورتی از فضـای قلمرو افغانستان عبور کرده می توانند که به موجب موافقتنامـهٔ منعقـده يـا کنوانسيون بين المللی اين حـق بـرای آنها اعطاء شـده باشـد، يـا اينکـه طيارات مذکور اجازه نامـهٔ خـاص و مؤقت به اين منظور را حاصـل کـرده باشند.

مادهٔ چهلم :

طيارات مندرج مادهٔ (۳۹) اين قـانون که از دهليزهای هوائی معينـه بـالای قلمرو افغانستان عبور مينماينـد، تـابع پرداخت حق العبور ميباشـند. انـدازه وچکونگی پرداخت آن توسط مقـرره تعيين ميگردد .

یوځلوېښتمه ماده :

هغه الوتکې چې نړیوالي الوتنې ترسره کوي،له سرحدڅخه دتېرېدو لپاره بايد مشخص هوايي دهلېز تعقیب کړي اوپه هغه هوايي ډګرکې چې دګمرک،ویزې او پاسپورت دکنترول ځانګې ولري، ناسته وکړي .

دوه ځلوېښتمه ماده :

دبهرني تابعیت لرونکې الوتکه، دسون دموادو، روغنیاتو، سامان آلاتو، د الوتکې دفالتو پرزو، خوراکي موادو، مشروباتو اودخانیاتو چې دالوتکې دننه موجود وي، دافغانستان قلمرو ته د ننوتلو اود وتلو په وخت کې د مالیاتو او ګمرکي محصولاتوله ورکړې څخه معاف دي .

دري ځلوېښتمه ماده :

که چېرې الوتکه دالوتنې په وخت کې له ټاکلي هوايي دهلېز یامشخص خط السیر څخه ووزي دېوهېدو سره سم دې پرته له ځنډه خپله الوتنه اصلاح اود ټاکلي هوايي دهلېزدننه دې حرکت وکړي .

څلورڅلوېښتمه ماده :

دنظامي یاعامه امنیت په علتونو،د

مادهٔ چهل و یکم :

طیاراتیکه پرواز بین المللی را انجام میدهند،برای عبورازسرحدبایددهلیز هوایی مشخصه راتعقیب نموده ودر میدان هوایی‌که دارای شعبات گمرک،کنترول ویزه وپاسپورت باشد،نشست نمایند.

مادهٔ چهل و دوم :

طیاره ای دارای تابعیت خارجی، مواد سوخت، روغنیات، سامان آلات، پرزه های فالتوی طیاره، مواد خوراکه، مشروبات و دخانیات که بداخل طیاره قرار داشته باشد، هنگام ورود و خروج از قلمرو افغانستان از پرداخت مالیات و محصولات گمرکی معاف میباشد .

مادهٔ چهل وسوم :

هرگاه طیاره حین پرواز از دهلیز هوایی معینه یا خط السیر مشخصه خارج گردد، به مجرد آگاهی بدون تأخیر سمت پرواز خود را اصلاح و بداخل دهلیز هوایی معینه حرکت نماید .

مادهٔ چهل وچهارم :

پروازطیارات بالای بعضی مناطق قلمرو

افغانستان دقلمرو دخپلو سیمو دپاسه، دالوتکو الوتنه منع یاپه خاصو شرایطو پورې مقید کېدای شي، هغه الوتکه چې دمنع شوې سیمې له پاسه ولیدل شي، دالوتکې پیلوټ مکلف دی له موضوع څخه په خبربېدو، د اشارې یا مخابرې اوپیغام په خپرولوسره،له ممنوعه سیمې څخه بهر په نږدېنږدې هوايي ډګر کې ناسته وکړي .

پنځه څلوېښتمه ماده :

دښاراوله نفوسو څخه ډکوسیموله پاسه دالوتکې الوتنه،ترهغې ارتفاع پورې مجاز ده چې دالوتکې دمحرکه قوې ددرېدو (توقف)په صورت کې په هوايي ډګراویاله ښاراوله نفوسوڅخه له ډکو سیموڅخه بهر،دهغې راکوزېدل همیشه امکان ولري .

شپږ څلوېښتمه ماده :

دمجاز پاڼو اوتبلیغاتي خپرونو په استثناء، په هواکې له الوتکې څخه دمالونو اونورو شیانو غورځول منع دي ،مګر داچې غیرمترقبه (فورس ماژور) حالات ددغه کار غوښتنه وکړي په هغه صورت کې چې دفورس ماژور په حالت کې د مالونو د غورځولو او یا دمجاز

افغانستان به علل نظامی یا امنیت عامه ممنوع، محدود ویا مقید بشرایط خاص شده میتواند.طیاره ایکه بالای منطقه ممنوع ظاهرگردد، پیلوت طیاره مکلف است حین آگاهی ازموضوع باپخش اشاره یامخابره، پیغام درنزدیکترین میدان هوایی خارج ازمنطقهٔ ممنوعه، نشست نماید .

مادهٔ چهل وپنجم :

پرواز طیاره بر فراز شهر یا مناطق پر نفوس صرف تاحدود ارتفاعی مجاز است که درصورت توقف قوهٔ محرکهٔ طیاره، فرود آمدن آن به میدان هوایی ویا درخارج از ساحهٔ شهر و مناطق پر نفوس همیشه امکان پذیر باشد .

مادهٔ چهل و ششم :

پرتاب کردن اموال وسایر اشیا به استثنای اوراق ونشریه های تبلیغاتی مجاز از طیاره درهوا ممنوع است، مگر اینکه حالات غیرمترقبه (فورس ماژور) این امر را ایجاب نماید.در صورتیکه از اثر پرتاب اموال درحالت فورس ماژور و یا از اثر انداختن اوراق و نشریه های

پانواو خپرونو دغورځولو لـــه امله د ځمکي پرمخ اشخاصویاملکیت ته زیان ورسېږي، هغه مؤسسه چې الوتکه یـــې پکاراچولې ده دزیان دجبران مسئوله ده.

اووه څلوېښتمه ماده :

هغه طبیعي موانع چې دالوتکو دالوتنې په تګلوري کې موجـــود وي اواحتمـــالاً دالوتنې مصئونیت تحدید کړي، بایــد دالوتنې دنقشـــو پـــرمخ درج شـــي، مصنوعي موانع چې الوتنه له خطر سره مخامخ کوي، باید دعلایمو او تـــنویري څراغونو په نصبولو سره، مشخص شي .

اووم فصل

پلټنه (تفحص) اوژغورنه

اته څلوېښتمه ماده :

الوتکه هغه وخت له خطر سره مخامخ ګڼـــل کېږي چې مسافرین، دالوتنې دکـــارکوونکو هیئت او الوتکه خطر تهدید کـــړي اودغـــه خطردالوتنې دکار کوونکودهیئت په وســـیله لرې نشواى شي. له خطرسره مخامخ الوتکه بایدله مقرراتو سره سم ،دخطرعلامې په هغو فریکونسیوکې چې دځمکنی مخـــابرې پـــه دستګاوو کې فعالیت کوي، خپرې کړي .

مجاز،ضرری به اشـــخاص یاملکیـــت درسطح زمین واردگردد، موسسه ایکه طیاره را بکارانداخته مســئول جبـــران خساره میباشد .

مادهٔ چهل و هفتم :

موانع طبیعی که در مسیر پرواز طیارات قرار داشته و احتمالاً مصئونیت پرواز را تحدید نماید باید روی نقشه هـــای پرواز درج گردد، موانع مصنوعی کـــه پرواز را به خطر مواجه میسازد باید بـــا نصب عـــلایم وچراغهـــای تـــنویری مشخص گردد .

فصل هفتم

تفحص و نجات

مادهٔ چهل و هشتم :

طیاره وقتی مواجه به خطر تلقی میشود که مسافرین، هیئت کارکنان پـــرواز و طیاره را خطری تهدید نماید و این خطر بوسیله هیئت کارکنان پرواز رفع شـــده نتواند . طیارهٔ مواجه به خطر باید مطابق مقرارت، علایم خطر را در فریکونســـی هاییکه دستگاه های مخـــابره زمینـــی فعالیت مینمایند، پخش کند .

نهه څلوېښتمه ماده :

دملکي هوايي چلند اوګرزنـــدوی وزارت اودډېر نږدې هوايي ډګرمسئولين،له خطر سره مخامخ الوتکې ته،بيړنۍ او سملاســـي مرستې برابروي، دامکان په صورت کـــې په نورو دايرو اوموسساتو پورې له مربوطو راديويي وسايطو څخه چې دالوتنې دليکـــو په شاوخوا اودډېر نږدې هـــوايي ډګـــرکې موجوددي، ګټه اخيستل کېږي،دافغانستان په قلمرو کې له خطرسره مخامخ بهرنـــی الوتکې ته عيناً دافغاني الـــوتکې مطـــابق مرسته اوکومک رسول کېږي .

پنځوسمه ماده :

الوتکه هغه وخت له خطر سره مخامخ ګڼل کېږي چې دالوتنې په وخت کې درنه صدمه ووينې يابشپړه ويجاړه شي ياله هوايي ډګـــر څخه بهرپه اجباري توګه راکوزه شوې وي.

يوپنځوسمه ماده :

الوتکه هغه وخت ورکه ګڼـــل کېـــږي چې دپلټنې او ژغـــورنې لـــه اقـــداماتو وروسته، د لګېدو (اصـــابت) ځـــای اويا دهغـــې څـــه نښـــه څرګنـــده او کشف نشي .

مادهٔ چهل ونهم :

مقامات هوانوردی ملکی و تـــوریزم و مسئولين نزديکترين ميدان هـــوايي، بـــه طيارهٔ مواجه به خطر، کمک های عاجل و فوری را فراهم ميسازند . در صورت امکان از وسايط راديـــويي متعلـــق بـــه ديگردواير و مؤسســـاتيکه در نـــواحی خطوط پرواز و نزديکترين ميدان هوايي قرار دارند استفاده بعمل می آيـــد، بـــه طيـــارهٔ خـــارجی مواجـــه بـــه خطـــر درقلمروافغانستان عيناًمطـــابق طيـــارهٔ افغانی کمک ومعاونت رسانيده ميشود .

مادهٔ پنجاهم :

طياره وقتی مواجه به خطر محســـوب ميشود که هنگام پرواز صدمهٔ فـــاحش ديده يا کاملاً خراب شده ياخـــارج از ميدان هوايي بطوراجباری فرودآمده باشد

مادهٔ پنجاه و يکم :

طياره وقتی مفقـــود الاثـــر محســـوب ميشـــود کـــه بعـــد از اقـــدامات تفحـــص و نجـــات، محـــل اصـــابت و يا اثری از آن معلـــوم و مکشـــوف نگردد .

دوه پنځوسمه ماده :

دالوتنې په حال کې الوتکې کپتان پیلوټ، په هغه صورت کې چې له بلې الوتکې څخه دخطر علامې ترلاسه کړي یا زیانمنه شوې الوتکه اوزیانمن اشخاص کشف کړي مکلف دی، دخطرموضوع یادِ زیان سیمه دنقشې پرمخ تثبیت اود هوايي ترافیک دخدمتونو ډېرې نږدې څانګې ته یې مخابره کړي، پدې شرط چې دهغه دغه عمل، دده دخپلې الوتکې دالوتنې مصئونیت ته خطر پېښ نکړي .

درې پنځوسمه ماده :

هغه شخص چې دزیانمنې شوې یا ورکې شوې الوتکې نښه ووینې یایې کشف کړي، په بیړې اوممکنو وسایلو سره دې، سیمه ایزو مقاماتوته خبر ورکړي .

څلور پنځوسمه ماده :

سیمه ایزمقامات، مؤسسې، اداري اوهغه اشخاص چې زیانمنه شوې الوتکه ویني، مکلف دي دملکي هوايي چلند اوګرځندوی دوزارت دهیئت تررسېدو پورې دمسافرینو دژغورنې لپاره لومړنی بیړنی طبي مرستې او نورې لازمې

مادهٔ پنجاه ودوم :

پیلوت کپتان طیاره ای در حال پرواز در صورتیکه از طیارهٔ دیگر علایم خطر دریافت کند یا طیاره و اشخاص آسیب دیده را کشف نماید، مکلف است موضوع خطر یا محل آسیب را روی نقشه تثبیت و به نزدیکترین شعبهٔ خدمات ترافیک هوایی مخابره نماید، مشروط بر آنکه این عمل وی به مصئونیت پرواز طیارهٔ خودش خطری ایجاد نه نماید .

مادهٔ پنجاه و سوم :

شخصیکه اثری از طیاره آسیب رسیده یا مفقود شده را مشاهده یا کشف نماید، به زودترین فرصت و وسایل ممکنه بمقامات محلی اطلاع دهد .

مادهٔ پنجاه و چهارم :

مقامات محلی،مؤسسات،ادارات و اشخاصیکه طیارهٔ آسیب رسیده را مشاهده میکنند،مکلفند تازمان مواصلت هیئت وزارت هوانوردی ملکی وتوریزم، اقدامات عاجل رابرای نجات مسافرین،کمک های اولیهٔ طبی وسایر معاونت های لازمه به عمل

مرستې وکړي،دمسافرينوامنيت، دالوتکې اودهغې داسنادو اومالونو ساتنه تأمين کړي.

پنځه پنځوسمه ماده :

دزيانمنې شوې ياورکې شوې الوتکې لپاره دپلټنې اوژغورنې عمليات، بې له ځنډه دملکي هوايي چلند اوگرزندوی دوزارت لخوا پيل کېږي .

شپږپنځوسمه ماده :

په هغه صورت کې چې دورکې شوې الوتکې په اړه دوروستي خبرتياله نېټې څخه ددريو مياشتو په موده کې دپلټنې اوژغورنې عمليات، دالوتکې دکشف پايلې ته ونه رسېږي، دملکي هوايي چلند اوگرزندوی وزارت واک لري، دپلټنې اوژغورنې عمليات پای ته ورسوي اوالوتکه ورکه اعلان کړي .

اتم فصل

هوايي ترانسپورټ

اووه پنځوسمه ماده :

هوايي ترانسپورټ له يوه ځای څخه بل ځای ته دالوتکې په واسطه دمسافرينو، دسفر دلوازمو، مالونو، پست اوښاروېو له حمل اونقل څخه عبارت دی .

آورده، امنيت مسافرين،حفاظت طياره،اسنادو اموال آنراتأمين نمايند.

مادۀ پنجاه و پنجم :

عمليات تفحص و نجات برای طيارۀ آسيب رسيده يا مفقودالاثر توسط وزارت هوانوردی ملکی وتوريزم، بدون تاخير آغاز ميگردد .

مادۀ پنجاه و ششم :

درصورتيکه عمليات تفحص ونجات طی مدت سه ماه بعد ازتاريخ آخرين اطلاعيه مربوط به طياره مفقود شده منتج به کشف طيارهنگردد، وزارت هوانوردی ملکی وتوريزم صلاحيت دارد، عمليات تفحص ونجات راخاتمه بخشيده وطياره رامفقودالاثراعلام نمايد.

فصل هشتم

ترانسپورت هوايی

مادۀ پنجاه و هفتم :

ترانسپورت هوايی عبارتست از حمل و نقل مسافرين،لوازم سفر، اموال،پست وحيوانات توسط طياره ازيک نقطه به نقطۀ ديگر.

اته پنځوسمه ماده :

دهوايي ترانسپورټ په واسطه، هوايي تجارتي اود مسافرو، دسفردلوازمو، مالونو، پست اوځاوريو حمل اونقل، دهوايي حمل اونقل دقرارداد په اساس ترسره کېږي .

نهه پنځوسمه ماده :

دهوايي مسافرت ټکټونه اود سفر دلوازمو دحمل اونقل ټکټونه چې دهوايي ترانسپورټ دمؤسسو لخوا ترتيب اومسافرينو ته ورکول کېږي، په خپل ذات کې دمسافرينو اود سفر دلوازمو دهوايي حمل اونقل دقرارداد په توګه ګڼل کېږي.

شپېتمه ماده :

دمالونو دهوايي بارليک (بارنامې) ترتيب اوصادرول چې دهوايي حمل اونقل دمؤسسې اود مالونو دمرسل په لاسليک اومهر رسېدلی وي، په خپل ذات کې له يوې خوا دهوايي حمل اونقل دمؤسسې اوله بل لوري دمرسل اومرسل اليه ترمنځ دقرارداد عقد جوړوي .

يوشپېتمه ماده :

(۱)دهوايي ترانسپورټ مؤسسه،دهوايي حمل اونقل دقراردادپه موجب مکلفه ده،

مادهٔ پنجاه و هشتم :

حمل ونقل هوايي تجارتیومسافر،لوازم سفر،اموال، پست وحيوانات توسط مؤسسهٔ ترانسپورت هوايي بر اساس قرارداد حمل ونقل هوايي انجام ميشود.

مادهٔ پنجاه و نهم :

